

نورمحمد غفوري

# یوه چیغه یم، فریاد یمه، غزل یم

د ښایست په ګلستان دې مست بلبل یم
فرق یې نشته په (ماربورګ) که په (کابل) یم

عاشقۍ کې زړه نا زړه نه یم محبوبې
د فرهاد او د مجنون په تسلسل یم

سر تر پښو نه ډک د مینې د احساس یم
سرغندوی د عاشقانو د محفل یم

بې له تانه، یم نیمګړی ژوندانه کې
ستا تر څنګه مستغنی یم، مکمل یم

د بازار د مینې (لنډه کیسه) نه یم
د رښتیني محبت بشپړ (ناول) یم

ستا د مینې له احساس په زړه ډاډه یم
سر مې لوړ د عشق او مینې یو مودل یم

په پردیو ملکو ډیر یم ګرځیدلی
خو په فکر او په خیال د وطن خپل یم

د ناکامو او کامیابو عاشقانو
یوه چیغه یم، فریاد یمه، غزل یم

امتیاز ته په آخر صف کې دریږم
خو چې ځای د سربښندنې وي، اول یم

زه د تیرو حادثو په نغري پوخ شوم
نوی شوی ځم، په لار د مستقبل یم

د ظالم او کبرجن او دیکتاتور نه
نه ویریږمه، د خدای په توکل یم

چې یادونه او فکرونه د حسین کا
(غفوری) د تا د خیال د تېتر ګل یم

۲۱/ ۸/ ۱۳۹۴ معادل است با 12.11.2015